## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# له هغه ماشوم سره مرسته چې ژبه یې نښلي

څنګه مرسته کولای شئ:

- ډاډ حاصل کړئ چې ستاسو ماشوم کافي خوب لري.
- خپل ماشوم ته ووایاست چې د ژبې نښتل کومه ستونزه نلري، د بېلګې په توګه دا یو څه سخت ښکاري، سمه ده، تاسو هر هغه څه ما ته وویل چې باید ویلي مو وو
- هغه څه ته لېوالتیا وښایاست چې ستاسو ماشوم یې وایي.
- کله چې ستاسو ماشوم له تاسو سره خبرې کوي پر هغه تمرکز وکړئ او هغه شیان لرې کړئ چې پام مو بل لوري ته اړوي. د دې کار ترسره کولو لپاره غوره لار دا ده چې کله ستاسو ماشوم خبرې کوي تاسو هغه ته ګورئ او کله چې هغه خبرې کوي، تاسو ورته سر خوځوئ.
- صبر وکړئ چې هغه خپلې خبرې خلاصې کړي.

- خپل ماشوم ته مه وایاست چې ورو خبرې وکړه، ځکه چې هغه نارامه کېږي.
- د خپل ماشوم په خبرو کې مداخله مه کوئ، مه د هغه/ هغې جمله بشپړوئ.
- خپل ماشوم مه اړ باسئ چې خبرې وکړي، په ځانګړې توګه د هغو خلکو په مخ کې چې هغه یې نه پېژني.

د ژبې نښتل  د والدینو لپاره ګټور وېب سایټونه

**برېتانیا د ژبې نښتلو ټولنه** (Stamma): https://stamma.org/ ډېر ګټور معلومات او لارښوونې لري:

- ستاسو له ماشوم سره د مرستې کولو په اړه ویډیو ګانې: https://stamma.org/get-help/resources/videos-children-teenagers
- ورکشاپونه او د ملاتړ ګروپ: https://stamma.org/get-support/workshops
- د فېسبوک ګروپ: https://www.facebook.com/groups/stammeringbsa/

**د Michael Palin مرکز**: له هغو ماشومانو، ځوانانو او لویانو سره د معالجې له لارې مرسته کوي چې ژبه یې نښلي، دا درملنه د خورا مجربو متخصصینو له لوري ترسره کېږي:
https://michaelpalincentreforstammering.org/

**My Stammering Tap** ویډیو: https://vimeo.com/239094673

**Stambassadors** د هغو لویانو ویډیو کلیپونه چې ژبه یې نښلي او د خپلې دندې او د ژبې نښتو په اړه خبرې کوي:
https://actionforstammeringchildren.org/get-involved/stambassadors/